دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

بې له شکه چې له الله نه ډاربدونکي خلک به په باغونو او چینو کې وي. د خپل رب ورکړي نعمتونه به په خوښی سره اخلي خکه چې دوی له دېنه په مخ کې ژوند کې نیکوکاران وو. د شپې په ډېره لږه برخه کې ویده کېدل او د شپې په آخرنی برخه کې بې بخښنه غوښتله په مالونو کې یې د سوالګرو او بې وسو برخه مالومه وه. (الذاریات ۱۴ – ۱۹ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې ما له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه د غوره ایمان په هکله پوښتنه وکړه هغه وفرمایل: غوره ایمان دا دی چې ته نورو خلکو لپاره هغه څه خوښ کړې چې خپل خان ته یې خوښوې او هغوی لپاره هغه څه بد وګڼې چې خپل خان ته یې بد ګڼې. (رواه احمد)

شهادت دریم کال، ۲۸ مه ګڼه، پرله پسې ۱۲۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د تله ۱۳ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالقعده ۸ مه د۲۰۱۱ م د اکتوبر ۵ مه

حامد کرزی:

پاکستان برای صلح در افغانستان همکاری نکرده است

کابل، رسانه ها:
رئیس جمهور کرزی پاکستان را به عدم همکاری برای تامین صلح و ثبات در افغانستان متهم نمود و گفت که روی ستراتیژی مذاکرات صلح با مخالفین مسلح، عنقریب لویه جرگهٔ عنعنوی دایر خواهدشد.
این اظهارات را رئیس جمهور، شب گذشته در بیانیهٔ هفته وار تلویزیونی خود به مردم بیان نمود.
سخنان کرزی تا حد زیادی بر تلاشهای دولت افغانستان برای صلح و نقش پاکستان در این بخش متمرکز بود.
وی در سخنان خود بر حکومت پاکستان به این خاطر انتقادات شدید نمود، که طی چند سال گذشته به خواسته های ما در بخش تحکیم صلح در افغانستان پاسخ مثبت نگفته است.
کرزی علاوه نمود: "من چندین بار یادآور شدم که آفت تروریزم، نه تنها برای افغانستان یک مصیبت است، بلکه به زودی دامن پاکستان را نیز خواهد گرفت؛ بدبختانه که همینطور شد؛ اما با وجود تمام این بدبختی، مصیبت و فلاکت دامن کشور ما و پاکستان را گرفته است، و بازی دوګانه علیه افغانستان و

بقیه در صفحه ۴

راسموسن:

د تروریزم د لمنځه وړلو په برخه کې پاکستان ته اړتیا لرو

آزادي راډیو:
د ناټو عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن وایي، ناټو د پاکستان په خاوره کې د تروریزم د هغو اډو د له منځه وړلو لپاره د دې هېواد د حکومت مثبتو اقداماتو ته اړتیا لري چې په کې په افغانستان کې د حملو لپاره پلانونه جوړېږي.
د امریکا د ټولو وسله والو ځواکونو لوی د رستیز امیرالبحر مایک مولن تېره اونۍ وویل، چې په پاکستان کې دیره د حقاني شبکه چې په کابل کې د امریکا پر سفارت او نورو اهدافو د وروستی حملې مسوله بلل شوې، په واقیعت کې د پاکستان د استخباراتو د اداري د یوې څانګې په توګه فعالیت کوي.

پاتې ۴ مخ

کراکر:

امکان دارد نیروهای خارجی بعد از ۲۰۱۴ در افغانستان باقی بمانند

کابل، رسانه ها:
ریان کراکر سفیر ایالات متحده امریکا در افغانستان می گوید، امکان حضور نیروهای امریکایی بعد از سال ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان وجود دارد. سفیر امریکا در یک مصاحبه تلفونی از کابل به روزنامه تایمز لندن گفته است، او در باره یک موافقت نامه دوجانبه با حکومت رییس جمهور کرزی مذاکره می نماید که در آن روابط پایدار میان دو کشور را در ساحات مختلف بشمول امور امنیتی تنظیم خواهد کرد.
سفیر ایالات متحده امریکا گفت، او باور دارد که گرفتن کنترول امنیت سرتاسر افغانستان از نیروهای ناتو به نیروهای افغان

بقیه در صفحه ۴

ولسمشر حامد کرزی هندوستان ته پرون ورسېد

نوی ډیلی، پژواک:
ولسمشر حامد کرزی، چې د سه شنبې په ورځ په یوه رسمي سفر هندوستان ته روان شوی و، پرون له غرمې مخکې نوي ډیلي ته رسېدلی دی.
په روان زېږدیز کال کې هندوستان ته د ولسمشر حامد کرزي دغه دویم سفر دی، دغه سفر په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د همدغه کال په مې میاشت کې د هندوستان لومړی وزیر من موهن سنګه کابل ته راغلی و.
سرچینې وایي، چې ولسمشر کرزی به د دغه دوه ورځني سفر په ترڅ کې د هند او افغانستان تر منځ د ستراتیژیکو اړیکو او د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګری ته د پراختیا ورکولو په اړه له لومړي وزیر من موهن سنګه سره خبرې وکړي.
په خبرپاڼه کې راغلي، چې ولسمشر کرزی به د ابزرور په څېړنیز مرکز کې، په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان د لاس ته راوړنو، په شتو ننګونو او د سولې په برخه کې د افغانستان د حکومت د کړنلارې په اړه وینا وکړي.
د انډین ایکسپریس ورځپاڼې د سیاسي چارو یو لیکوال سي راجا موهن وایي، چې د سولې د عالي شورا د مشر د وژلو، په کابل کې د امریکا پر سفارت بریدونه او د حقاني پر سر د امریکا او پاکستان د اړیکو د خرابوالي پر مهال، هندوستان ته د کرزي سفر ډېر ارزښت لري.

حقاني شبکه وایي رباني دوی ندی وژلی

دامریکا غږ:
بي بي سي وايي چې دحقاني دشبکې دمشر سره یې مرکه کړې ده. دغه شبکه دطالبانو سره اړیکې لري. په یوې مرکه کې چې دبي بي سي په ویب پاڼه کې ددوشنبې په ورځ خپره شوې، ددغې شبکې مشر سراج الدين حقاني دا رد کړې ده چې ډلې یې دافغانستان دسولې دشورا مشر برهان الدین یې وژلی دی.
حقاني دغه راز وایي چې دحقاني شبکه چې پر په کابل کې دلویدیځو هیوادونو پر سفارتونو او قواوو دورستیو بریدونو تور دی دپاکستان داستخباراتو دسازمان یا آی ایس آی سره اړیکې نلري.
دامریکا دپوځ دلویو درسیتزانو دکمېټې پخواني رئیس دسمندری قواوو ستر جنرال مایک مولن دسنا یوې استماعیه غونډې ته تیره میاشت وویل چې دحقاني شبکه دپاکستان داستخباراتو دسازمان یا آی اس آی دغځیدلی بازو په توګه فعالیت کوي.
ښاغلي مولن وویل چې دحقاني شبکې په کابل کې دناټو پر قوماندانی او دامریکا پر سفارت باندي په بریدونو کې لاس درلود.
بي بي سي وايي چې دامنیتي ملحوظاتو پر بنا دحقاني سره مخ په مخ مرکه شونې نه وه نو ځکه هغه ته دیوه منځګړي له خوا نه پوښتنې ورواستول شوې او هغه بی بي سي ته بیرته ثبت شوي ځوابونه راواستول. بي بي سي وايي چې په دې باور ده چې په غږ کې کوم ځوابونه چې یې ترلاسه کړي دي هغه دخپله حقاني دي.

ایساف:

وسلوالو مخالفینو سره خبرو اترو ته دوام ورکوو



کابل، رسنۍ:
نوموړي دغه څرګندونې کونړ ولایت ته دسفر پر مهال په داسې حال کې کړې، چې ولسمشر حامد کرزي څو ورځې مخکې وویل، چې مخالفین خپلواک نه دي، ځکه ورسره د سولې خبرې نه کوي او له دې وروسته به د سولې خبرې نېغ په نېغه له پاکستان سره وکړي.
خو مایک ویلن چې پرون ناوخته یې د کونړ ولایت په مرکز اسعد اباد کې خبرې کولې، وایي چې په تېرو څو میاشتو کې له پنځوسو زیات وسلوال مخالفین د سولې له بهیر سره یوځای شوي دي.
په افغانستان کې د ایساف ځواکونو د سولې پروګرام دغه مسوول زیاته کړه، چې په کونړ کې د سولې بهیر ته په کتو سره، دلته دغې پروسې ښه پرمختګ کړی دی.
نوموړي ټینګار وکړ، چې که څه هم افغان ولسمشر د طالبانو پرځای له پاکستان سره د خبرو پیلولو خبره کړې ده؛ خو ایساف به په ولایاتو کې له وسلوالو مخالفینو سره د سولې پروسې ته دوام ورکوي.
د ایساف ځواکونو د سولې پروګرام مسوول مایک ویلن زیاته کړه: "په ستراتیژیکه برخه کې به په خپله ولسمشر تصمیم نیسي، زه چې په ولایاتو کې د دې برخې مسوول یم، موږ د جنګیالیو په راوستو او د سولې بهیر سره د هغوی یو ځای کولو ته ادامه ورکوو."
د کونړ والي سید فضل الله وحیدي وویل،

پاتې ۴ مخ

د افغانستان د اسلامي نهضت د مستقبل په اړه د یوه ژور فکر وخت

فدا محمد فایض

یواځې د افغانستان د اسلامي جمعیت مشر نه، بلکې د افغانستان د اسلامي نهضت یو مهم مشر او مخکښ استاد برهان الدین ربانی د ۱۳۹۰ د وږي پر ۲۹ مه د اسلام او افغانستان د دښمنانو له خوا د یوې خاینانه دسیسې په ترڅ کې شهید شو.
دا چې استاد چا شهید کړ او د کومو شیطاني اهدافو په خاطر یې شهید کړ په دې اړه خو دولت د یوه کمیسیون له لارې څېړنې وکړې چې د څېړنو پایلې یې پر (۱۳۹۰/۷/۱۰ – د ۲۰۱۱ د اکتوبر دویمه) نېټه ولسمشر حامد کرزي ته وسپارلې چې قاتل یې د پاکستان د چمن اوسېدونکی او د دسیسی د جوړولو محل کوټټه ښودل شوې او په ۱۳۹۰/۷/۹ نېټه د افغانستان ولسي جرګې ته په دې اړه د خپلو څرګندولو په لړ کې د کورنیو چارو وزیر ستر پاسوال بسم الله محمدي وویل چې دې پېښه کې د پاکستان د پوځي استخباراتو اداره یا آی اس آی لاس لري. دا چې زما ددې لیکنې هدف د پېښې ددې اړخ راسپړل نه دي، نو ځکه خو له دې برخې نه تېرېږم او راځم خپل اصلي هدف ته.
دا چې عوامل یې هر څه وو، او دا چې څوک په کې ور او څوک پړو دا هم د تاریخ یوه برخه شوه چې زه یې څېړل نه غواړم؛ خو د افغانستان د اسلامي نهضت ټوټه ټوټه کېدل، واقعاً چې یوه ستره غمیزه وه؛ نه یوازې د افغانستان د اسلامي نهضت د غړو له پاره بلکې د افغانستان د ګرد ملت او ګرد اسلامي امت له پاره. که چېرې د افغانستان اسلامي نهضت په ډلو ټپلو نه وای ویشل شوی، ډېره ممکنه وه چې کوم ترخه عواقب رامنځته شول نه وای رامنځته شوي. کله عواطف ددې باعث شي چې سړی له یوه ریښتیني قضاوته پاتې کړي؛ ...

پاتې دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپیڅلي نامه

آیندهٔ روند صلح در کشور ما

ملت افغان در شورای مشورتی ایکه به منظور بحث در مورد آوردن صلح از طرف دولت دایر گردیده بود نزدیک به اتفاق آراء به آوردن صلح با مخالفین نظام پافشاری نموده اند و از جملهٔ ۲۸ کمیتهٔ آن شوری ۲۶ کمیته به قاطعیت خواهان آوردن صلح شدند ولی با تأسف نه تنها جرگهٔ گذشته که به هر مجلس دیگر فرصت آن داده نمی شود که میکنزم عملی و طرز کار بعدی مجالس اجرائیوی، و آنچه را که مراجع صلاحیت و قدرت به نام آن جرگه به تصویب میرسانند ترسیم نمایند.

اکنون این سوال مطرح است مجلس بعدی ایکه آقای رئیس جمهور به دایر شدن آن اشاره نموده اند به همان سرنوشت روبرو نخواهد شد که شورای مشورتی صلح با آن مواجه گشت؟ بهتر است مکثی در شورای عالی موجوده صلح بنمائیم.

در ترکیب این شوری بجای آنکه آرنده گان صلح و شخصیت های بیطرف جا داده شوند که بتوانند آزادانه میان اطراف مختلف قضیه در تردد بوده و موضعگیری نمایند و در این امر مهم شرعی و ملی شریک شده و ادای مسؤولیت کنند با تأسف به غرض اثبات موجودیت شخصیت های طرف جنگ و نزاع جا داده شد که عدهٔ از آنها به هیچ صورت خواهان صلح نبوده اند. نه تنها مخالفین نظام که مردم عامهٔ ما بر سابقه، شهرت، نیت، امانت و طهارت آنها برای آوردن صلح در افغانستان اطمینان نداشتند.

شورای عالی صلح با مداخلهٔ دولت و آقای کرزی بیش از ضرورت دولتی، رسمی و تشریفاتی گردید.

در اینجا لازم است از اخلاص و حسن نیتی که جلالتمآب شهید پروفیسور برهان الدین ربانی رئیس شورای عالی صلح برای آوردن صلح داشتند با کمال قدردانی و ستایش یادآوری نمائیم اما اوشان که طی سالهای ریاست جمهوری شان طرف مقابل جنگ با آنها بوده اند، چگونه ممکن است طالبان محروم شده از قدرت توسط او از مذاکرات صلحی که ریاست آنرا اوشان به عهده دارند استقبال نموده و با آن همکاری کنند.

مغزهای متفکر و صاحبان قرار در شورای عالی صلح ذواتی اند که در جبهه مخالفت با طالبان سالیان درازی جنگیده اند، طالبان اوشان را به عناوین بد یاد نموده و اوشان هم طالبان را مزدوران اجنبی خوانده اند، جالب آنکه چند روز قبل از شهادت استاد بزرگوار یکی از رهبران تنظیم ها که عضویت شورای عالی صلح را نیز دارند صلح با مخالفین را یکسره مردود خواند. پس شورای عالی صلحی که عناصر تأثیر گذار در آن معاندانه و غیر مسؤولانه صلح را رد نماید چگونه به کامیابی برسد واگر مجلس دیگری به این منظور دعوت شود راپور کاری دولت و شورای عالی صلح با چنین ترکیبی از طرف دولت انتصاب گردیده بود چه باشد تا در برنامهٔ بعدی تغییری آورد و یکسره آنرا مردود شمارد.

مردم ما صلح را در میان کسانی میخواهد که زندگانی طبعی بر آنها را تلخ ساخته است آنها میخواهند همه سلاح دارانی که امنیت جسمی و روانی ایشان را تهدید میکند خلع سلاح شوند خواه آنهائیکه واسکت انتحاری پوشیده بنام متجاوزین خارجی تن مردم عوام مظلوم ما را پارچه پارچه سازد و یا کسانیکه با داخل شدن به مسجد به همراهی ده تن کلاشینکوف دار بنام رجال برجسته روان مردم ما را میآزارد و این یکی از دلایلی است که ارقام رسمی وزارت صحت عامه ۶۲ فیصد مردم ما را بیماران روانی خوانده است.

آقای کرزی و تیم حاکم قبل از آنکه به کدام مجلس بزرگ پیشنهاد جدیدی در باره تغییر در روند صلح تقدیم نماید یکبار باید به شورای عالی صلح نظر انداخته و استعداد آنها را برای آوردن صلح با توجه به سوابق زنده گانی سی ساله اخیر شان مورد مطالعه قرار دهد و در وضع تغییر مؤثر بیاورد، زیرا بقول شاعر:

بوریا باف اگر چه بافندست
نبرندش به کارگاه حریر

چه کسی میتواند که مطمئن شود که حلقات خطرناک و دست های مرموز به شهادت استاد بزرگوار دست زده باشد تا دروازه های تفاهم بین الافغانی را در میان خود افغانها برای همیشه مسدود ساخته و جوانب خاصی را وصی و قیم بر تفاهم تحمیل نماید؟

چگونه میتوان رد کرد که کشانیدن پای طالبان به یک دفتر سیاسی خارج از حیطهٔ تصرف و قیمومیت همسایگان (قطر) در این امر اثر نداشته باشد؟

اگر چنان عنوان شود که ما بجای اطراف داخلی جنگ با دولت پاکستان داخل مذاکره میشویم پاکستان که داشتن اثر بر جنگجویان افغانی را رد نموده است چگونه میتواند مسؤولیت نمایندگی از آنها را بپذیرد و به آنکه این جنگنده گان اطاعت بی چون و چرا از اوامر دولت پاکستان داشته باشند اعتراف کند.

و اگر راه راضی ساختن آنها از طریق حلقات ملی و سیاسی غیر دولتی پاکستان باشد باید در برنامه دولتی شورای عالی صلح افغانستان هم در همین سمت تغیير وارد آید.

این جنگنده گان که تا سرحد جانبازی و انتحار و به تعبیر خود شان استشهاد در سنگر مقابله اند و برای طرد نیروهای اجنبی از افغانستان میجنگند آیا خواهند پذیرفت که پیشمرگان منافع و مصالح یک دولت اجنبی بوده و زمانی مصالح آنکشور تأمین و تضمین گردد دست از مخالفت و جنگ بر میدارند.

در حالیکه هنوز آنهائیکه شاهد زنده معاهده ژنیوا میان پاکستان و رژیم ببرک کارمل با پا درمیانی و گواهی شوروی وقت و ایالات متحده امریکا بوده اند موجود اند میشود پذیرفت تفاهم مستقیم با یک کشور اجنبی بر سر سرنوشت افغانها با منطق که آنها را قانع ساخته است بجنگند در مسیر آنها تغییر وارد کند و هر نوع تفاهم و معاهده با پاکستان به سرنوشت همان قرارداد ژنیو روبرو نشود.

با آنچه گفته آمد بر دولتمردان افغان است قدم های بعدی را در راه صلح با حکمت و متانت بگذارند و راه های حکیمانهٔ را برای آوردن صلح و ثبات در کشور به پیش گیرند نه قدمهای مقطعی و احساساتی.

رسالت اصلی شورای عالی صلح

اعزامی

شورای عالی صلح بنابر ضرورت شدید مردم افغانستان به تأمین صلح و امنیت در کشور، سال گذشته در جریان نشست جرگه مشورتی صلح تشکیل گردید و اعضای آن از اقشار، اقوام، احزاب و طبقات عدیدهٔ مردم با رعایت تناسب نفوس هر قشر، قوم و حزب از جانب ریاست جمهوری برگزیده شدند.

شورای عالی صلح در زمانی شروع بکار کرد که قبل از آن در سال ۱۳۸۳ کمیسیونی مستقل دیگری بنام "کمیسیون مستقل تحکیم صلح" فعالیت می کرد، ولی کارکردهای کمیسیون مذکور برای تحکیم صلح و کاهش جنگ مؤثر واقع نشد و در نتیجه فعالیت های کمیسیون مذکور بجای تعمیم صلح و تأمین امنیت، دامنهٔ جنگ و بحران روز تا روز گسترش یافت و سیطره و حاکمیت دولت در بعضی مناطق ضعیف گردید و حتی به اثر تحرکات روز افزون نظامی مخالفان دولت، روابط بعضی از ولسوالی های نوار مرزی در شرق و جنوب کشور با مرکز دچار سکتگی گردید، اگر چه کمیسیون تحکیم صلح گاه گاهی با پخش اخبار و گزارشات، از پیوستن یک تعداد گروپ های مسلح مخالف به صفوف نیروهای امنیتی خبر می داد، ولی از سوی دیگر پروسه سربازگیری مخالفان دولت در اطراف و اکناف کشور به حدی توسعه یافت که حاکمیت و نفوذ دولت را در بعضی از مناطق زیر سوال برد و این واقعیت گویای این امر بود که کار کمیسیون برای برقراری صلح و تأمین امنیت موثر واقع نگردیده است. همین انگیزه باعث آن گردید تا اولیای امور در صدد پیدا کردن راه و چارهٔ دیگری شوند تا از گسترش روز افزون جنگ و بحران در کشور جلوگیری شود و با فراخواندن مخالفین به مصالحه و آشتی، بساط جنگ و بدبختی را از کشور برچینند.

شورای عالی صلح روی این ملحوظ تشکیل گردید تا با طرح میکانیزم جامع، همه جانبه و معقول مخالفین را به سازش و مدارا فراخوانده و با تجزیه و تحلیل خواست ها و پیشنهادات آنها، طرح تشکیل یک نظام قابل قبول برای همه را بریزند تا به این صورت دیگر مخالفی در برون از نظام باقی نمانده و همه در کنار هم برای آبادانی و تلافی سه دهه ویرانی کشور کار نمایند.

فرق عمده بین روش کار شورای عالی صلح با کمیسیون تحکیم صلح در اینست که کمیسیون تحکیم صلح با داشتن یک دفتر مرکزی در کابل و تاسیس دفاتر نمایندگی در ولایات، گروپ ها و افراد ناراضی از دولت را با انجام کارهای اوپراتیفی، تشویق و دعوتی از جنگ بسوی صلح فرا می خواند، مگر تا جائیکه در عمل دیده شده، این شیوه جلوگیری از جنگ و تأمین صلح، برای ختم بحران نتیجه معکوس داد و دامنه بحران روز تا روز گسترش یافت. لهذا ارباب اقتدار در داخل و خارج کشور در جستجوی راه و چاره ای گردیدند تا عوامل و انگیزه های جنگ در مهابط و مصادر بحران محو گردد، زیرا با تطمیع و تشویق چند گروپ پراگنده در اطراف و اکناف کشور و پیوستن آنها به صفوف نیروهای امنیتی، هرگز هم جنگ پایان نمی یابد، ولی اگر با تفاهم و مذاکره با رهبری و منابع مخالفین طرح جامعی برای ختم جنگ و اعاده صلح، ریخته شود و آنها روحاً آماده پذیرش صلح گردیده و با سهمگیری در تشکیلات دولت، از جنگ دست بکشند، آنگاه دیگر اصلاً مخالفی باقی نمی ماند و صلح واقعی در کشور تأمین می شود. شورای عالی صلح با همین روحیه تأسیس گردید تا با درنظرداشت تجارب مثبت و منفی کمیسیون تحکیم صلح، از دعوت و تشویق پراگنده افراد و گروپ های سطوح پائین مخالفین به مصالحه که چندان نتیجهٔ مطلوب تحویل نداده، صرف نظر نموده و با تدوین مسودهٔ همه جانبه به مشوره و تفاهم سران و رهبران مخالفین و حتی کشورهای حامی مخالفان و جامعه بین المللی، طرح جامعی بریزند تا به این ترتیب دیگر هیچ منبع و مصدر مخالف باقی نماند، محلی از مخالفین توجیه و اکمال می شوند.

متأسفانه طوریکه در عمل دیده می شود، در بعضی موارد شورای عالی صلح باز هم همان تجربه ناکام کمیسیون تحکیم صلح را تکرار نموده با تاسیس دفاتر ولایتی به جلب و جذب افراد و گروپ های پراگنده به پروسهٔ صلح می پردازند. درین شکی نیست که بعضی از افراد و گروپ های که مواد لوژستیکی آنها ختم شده و دیگر توان ادامه جنگ را با دولت نداشته باشند، با برقراری تماس با دفاتر نمایندگی شورای عالی صلح به صفوف دولت می پیوندند، ولی این پیوستن ها موقتی و موسمی بوده و مژدهٔ تأمین صلح سراسری و ختم کامل جنگ را نمی دهد. لهذا بر شورای عالی صلح است که ازین تجربه ناکام دست برداشته و تمام اهتمام خود را روی همان نکات کلیدی ایکه منجر به صلح کلی و پایدار و ختم همه جانبه جنگ و بحران می شود، متمرکز سازد.

این نکات کلیدی عبارت اند از:

۱- تفاهم و مذاکره با جامعه بین المللی مبنی براینکه جنگ راه حل بحران افغانستان نیست و جلب توجه و نظر آنها برای راه اندازی پروسه مصالحه و آشتی با مخالفان دولت.

۲- ریختن یک طرح جامع که اسباب قناعت هر دو طرف را فراهم کند و با مشارکت و سهم دادن مخالفین در تشکیلات دولت، ریشه جنگ و بحران خشکانیده شود.

۳- راه اندازی کارهای تبلیغاتی غرض آگاهی عامه، برای تعمیم صلح و ختم جنگ و رفع نگرانی آن حلقات و مجامعی که از مصالحه و مشارکت با مخالفان نگرانی دارند.

۴- تعیین یک کمیسیون مختصر گفتگو و تماس که با یک میکانیزم جامع و معقول با طرف مقابل به مذاکره و تفاهم بپردازد و هر دو طرف طرح ها و پیشنهادات خویش را غرض نیل به صلح به همدیگر حالی نمایند.

۵- بحث و مناقشه روی همان طرحی که در نتیجه گفتگو با هیئت باصلاحیت طرف مقابل بدست آمده و با تنازل و گذشت طرفین بالاخره به یک میکانیزم وسط و قابل قبول نهایی می شود.

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT

جوانان و مسؤولیت خطیر شان

محمد عابد "لنداک"

در شرایط موجوده کشور که از یک طرف ظلم، بی عدالتی و بی امنی جوانان ما را از تعلیم دور ساخته و فکرهای شان مخشوش میباشد. از طرف دیگر سیل مدحش فحاشی و فرهنگ ستیزی جوانان ما را آنقدر مصروف ساخته که در تاریخ کشور عزیزما افغانستان بی سابقه میباشد. تعقیب نمودن پروگرام های مبتذل تلویزیونی زیرنام آزادی رسانه ها و پوشیدن لباس های هندی زیر نام ستایل و عصری گرایی دو عنصر دیگری میباشد که جوانان عصر امروز ما را از مسیر اصلی آن که تابعداری از فرهنگ اصیل اسلامی میباشد منحرف نموده اند.

موارد فوق را در نظر گرفته لازم دیدم تا در این لمحهٔ حساس تاریخی جوانان کشور عزیز و مجاهد ما افغانستان به چند نقطه مهم متوجه نمایم:

اول: خداوند جل جلاله انسان را طوری خلق نموده که زنده گی او در این دنیا از سه مرحله متفاوت میگذرد، و به پایان میرسد.

مرحله اولی آن که طفولیت میباشد یک مرحلهٔ عدم مسؤولیت پذیری و عاری از یک پلان منظم اختتام می یابد.

مرحله دوم که یک مرحله بسیار حساس، پُر مسؤولیت و آینده ساز میباشد مرحله جوانی است. همین مرحله است که انسان میتواند به اهداف بلند دنیوی و اخروی خویش نائل آید و مسیر زنده گی اجتماعی و سیاسی را برای خود انتخاب نماید.

علی الرغم اینکه جوانان در تعلیم و تحصیل خویش کوشا باشد، باید حس حضور خداوند جل جلاله در اندیشه و تفکر را شدیداً مدنظر داشته و آنرا مقدم شمارد. و به تدریج فکری را به مخیله اش راه دهد که او را با خدایش نزدیک میسازد اندیشه و فکری که به او و تمام مردم مفید باشد.

همچنان با آموزش یکجا باید به یاد داشته باشد که عقل، قلب و آرزوهایش تابع قوانین است که توسط خاتم پیامبران حضرت محمد صلی الله علیه وسلم برای بشریت آورده است.

دوم: مسأله دیگری که متأسفانه جوانان را از راه راست، راه که الگو برای دیگران باشد دور نگهداشته انتخاب دوستان فاسد میباشد. دوستان فاسدی که از یک طرف به روح و روان جوان صدمه وارد میکنند از طرف دیگر همنشینی با آنها منجر به این میشود که جوان تحت تأثیر عادات بد و انحراف اخلاقی آنها قرار بگیرد.

پس جوانان، خواهران و برادران بیائید به یک

صدا و با هم یکجا به بی سوادی، بداخلاقی، عدم مسؤولیت پذیری و به تمام موارد و شیوه های که سبب بدبختی و اختشاش افکار جوانان عزیز ما میشود وداع بگوئیم و به حیث یک جوان مسؤول، متحرک، باهوش و مسلمان زنده گی نمائیم، و یکبار دیگر تاریخ آن فرزندان دلیر، با شهامت و مجاهد خود را که با دست خالی و عقیدهٔ راسخ توانسته اند که نام جهاد، مبارزه و مجاهد را در سرتاسر جهان زنده نگهدارد تجربه نمائیم.

آتش شعله آور تعصب و قوم گرایی را ریشه کن نموده و اهداف شوم دشمنان دین و وطن خود را تشخیص نمائیم.

دشمنان که راه دیگری برای رسیدن به اهداف سیاسی و اقتصادی خویش نداشته همیشه در تلاش اند که بنام قوم، مذهب و زبان این ملت واحد و مسلمان را از هم جدا ساخته و از جوانان در همین راه بحیث ابزار استفاده نمایند. در اخیر از بارگاه خداوند متعال استدعا مینمائیم تا کشور جنگ زده و ویرانه ما را به دست جوانان این سرزمین آباد سازند.

مارتین ته د مایک مولن نصیحت

محمد خلیل

د امریکا د ګډو ځواکونو لوی درستیز امیرالبحر مایک مولن د تېرې جمعې په ورځ له خپل منصب څخه د لېرې کېدو پر مهال خپل ځای ناستي مارتین ته وصیت وکړ چې د افغان جګړې د ګټلو لپاره باید د پاکستان اهمیت په پام کې ونیول شي، هغه له مارتین نه غوښتنه وکړه چې د پاکستان اهمیت په یاد وساتي او هڅه وکړي چې تر ما ښه دنده اجرا کړي، نوموړی دا هم په ډاګه وویل چې د پاکستان له مرستې پرته په افغانستان کې سوله ناشونې ده که د تاریخ په پاڼو نظر واچوو نو د تېرو لسو کلو راهیسې امریکایي ولسمشرانو او پوځي جنرالانو هم د مایک مولن په څېر په وار وار د پاکستان د اهمیت په اړه یې څرګندونې کړي او په ډاګه یې ویلی دي چې د پاکستان له همکاری پرته په افغانستان کې پوځي بری ناشونی دی، خو پوښتنه داده چې آیا پاکستان تر اوسه پورې همکاري او مرسته نه ده کړې او که څنګه !؟ که نه یې ده کړې نو د کومو لاملونو او ملحوظاتو له کبله؟ هغه کوم علتونه او وجوهات دي چې پاکستان په افغانستان کې د سولې د راتلو لپاره له خپلو مرستو څخه ډډه کوي !؟ آیا له پاکستان څخه دا پوښتنه شوې چې هغه ولې په افغانستان کې د سولې د تأمین له پاره مرسته نه کوي؟ کوم خنډونه او اندېښنې دي چې پاکستان یې له مرستې بند کړي دی؟

د مایک مولن او نورو لوړ پوړو امریکایي چارواکو له څرګندونو څخه دا په ګوته کېږي چې د افغانستان په جنګ کې د پاکستان اهمیت او موثریت یقیني او قطعي دی ځکه خو امریکا او ناټو غړی هېوادونه د پاکستان په ملګرتیا ټینګار کوي، او لدینه دا هم څرګندېږي چې په دې جګړه کې پاکستان دیو مؤثر رول پلې کولو قابلیت او ځواک لري همدا وجه ده چې امریکا کله هم دا جرئت نه دی کړی چې پاکستان له لاسه ورکړي بلکې هروخت په جنګ کې دهغه د تعاون د راجلبولو هڅې یې کړې دی.

دا دواړه هېوادونه په حقیقت کې پخواني دوستان او شریکان دي، دوی د تاریخ په اوږدو کې له یو بل سره مرسته او همکاري کړې، او د یو بل ګټو ته اوږه ورکړې ده، پاکستان چې د استقلال ټول عمر یې ۶۴ کاله کېږي په دې لږه موده کې د اتومي او توغندوي ځواک لروونکی هېواد وګرځید، په پوځي او د ژوندانه ضرورتونو په نورو ډګرونو کې خود کفا شو، لنډه دا چې پاکستان د امریکا له دوستي څخه ښه ګټه اوچته کړه، پاکستان امریکا ته د روسانو په خلاف د جاسوسي لپاره هوایي او زمکنی اډې ورکړې او امریکا پاکستان ته د اتومي او توغندوی وسلو د جوړولو فرصت برابره کړه د دواړو هېوادو ترمنځ د دوستي فضأ کله تاوده او کله ځړه شوې ضرور ده خو د ضرورت په وخت کې یو بل ته د دوستي کلک لاسونه ورکړی دي لس کاله وړاندې پر افغانستان د امریکا پوځي یرغل په وخت کې هم پاکستان د امریکا کلکه ملګرتیا وکړه چې تر نن روانه ده، که څه هم په څېنو وختونو کې د دواړه ترمنځ د اختلاف غږونه هم پورته کېږي او یو بل ته ګلې شکوې هم کوي خو په مجموعه کې د دواړو هېوادو ترمنځ پوځي همکاري دوام لري، ځکه خو مایک مولن په دې خبره ټینګار کوي چې د پاکستان له مرستې پرته په افغانستان کې پوځي بری ناشونې ده، نه ښایي دهغه له اهمیت نه سترګې پټې کړی شي. د مایک مولن له دغو څرګندونو نه دا په ډاګه کېږي چې د افغانستان په جنګ کې پاکستان او امریکا دواړه د یو بل ملګري او دوستان دي، دوی په هېڅ صورت کې نه غواړي چې له یو بل نه جلا شي او د دښمنۍ په پولو کېني، اوس نو افغانانو ته په دې خبره ژور غور پکار دی چې په دې حساس وخت کې پخپله افغانان څه وکړي او پاکستان سره کومه لاره ځانته غوره کړي؟ ددوستي او که د دښمنۍ؟ !

په دوستي کې به یې ګټه وي او که په دښمنۍ کې؟ ! که امریکا له پاکستان سره دوستي اړیکې پالي نو د افغانستان دښمني به څه لاسته راوړنه ولري او که دوستي کوي نو نقصان به یې څه وي؟ په دې کار کې باید بشپړ پاملرنه وشي او له هر ډول عجولانه ګام له اوچتولو څخه په کلکه ډډه وشي، تر څو له زیات زیان څخه په امن پاتې شي.

د افغانستان د اسلامي نهضت د مستقبل په اړه د یوه ژور فکر وخت

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...خو که دا عواطف یوې خواته پرېږدو باید دا ومنو چې د مجاهدینو له هرې ډلې نه داسې تېروتنې وشوې چې سړی باید ټول عمر پرې له تأسف سره یو ځای اوښکې تویې کړي، تر دې چې کمونستانو ته یې غبرګې پرانستې او هغه څوک یې هم په غېږ کې ونیول چې څوارلس کاله ورسره جنګېدلي وو او بالاخره همغوی دې ته زمینه برابره کړه چې مجاهدین په خپلو کې سره واچوي او داسې یې سره وجنګوي چې له کمونستانو سره هم هغسې نه و جنګېدلي، ان چې په دې جنګونو کې اوراګان توغندي چې زموږ عامو خلکو ورته "سکادچوچه" ویل هم وکاریدل او ان چې جیټ الوتکې هم وکارېدې او اوبوس توپونه هم په غړمبا راغلل همغه و چې د عظیم الشان قرآن په تعبیر چې له نزاع نه یې منع کړې ده:

ولاتنازعوا، فتفشلوا و تذهب ریحکم

یعنی نزاع مه کوئ چې سست به شئ او قوت به مو ولاړ شي

ربښتیا هم زور یې اوبه شو، څه په یوه خوا ولاړل او څه پر بله خوا او بالاخره همدې اختلافاتو، ټکرونو او کاملاً غیر شرعي ترېګنیو دې ته زمینه مساعده کړه چې امریکا او ناټو ددنیا له هغه سر نه راشي او د افغانستان په ایرو کې د خپلو ناولو اهدافو پلټنه شروع کړي او ګاونډیان مو جلا پر غوښو داړې ښخې کړي او هډوکي مو وشپېلوي. ښایي زموږ ډېر دوستان اوس هم لګیا وي او دغو ناروا اختلافاتو ته توجیهات ولټوي؛ خو باید د یوه مسلمان په توګه تېر وتنه، تېروتنه او ګناه، ګناه وبولو او له خپل رب نه د خپلو کړو تېروتنو او ګناهونو عفو وغواړو. عظیم الشان قرآن موږ ته د اختلافاتو د حل بهترین فورمول په لاس راکړی دی:

فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ

په کوم څه کې چې نزاع وکړئ، الله (ج) او د الله رسول (ص) ته یې راجع کړئ.

که د اماره نفس د غوښتنو منل پرېږدو نو د اختلافاتو او د نظر د تفاوتونو حل کومه ستونزمنه خبره نه ده.

اوس چې د استاد رباني په څېر د اسلامي نهضت لویه سته د بهرنیو شیطاني اهدافو ښکاره شوه، د یوه مسلمان او د افغانستان د اسلامي نهضت د یوه داسې غړي په توګه مې چې د زړه له تله د نهضت پر بده ورځ زور ېږم، وړاندیز دا دی چې د اسلامي نهضت اصیل بچیان یو ځل بیا پر یوه چوګۍ او یوه دسترخوان د راټولیدو په باب فکر وکړي، په دې اړه د هېڅ اندېښنې ځای نشته، دا کار فقط اخلاص غواړي، که نن استاد رباني زموږ په منځ کې نشته، که تر استاد رباني دمخه هم زموږ د نهضت ډېر د سر شخصیتونه د کمونستانو په لاسو شهیدان شول، خو بیا هم د نهضت یو شمېر د سرسړي لاژوندي دی او دغسې د پرون واړه کسان هم نن په لویو شخصیتونو بدل شوي او رامنځته شوی تشه یې تر ډېره ډکه کړې ده. دا ټول د نظر خاوندان دي، طرح ورکولای شي، ابتکار کولای شي، زما باور دی چې که دغه نیک کار ته اقدام وشي، ډېری به یې استقبال وکړي. زما وړاندیز دا دی چې یوازې فکر وشي چې د اسلامي نهضت ټولې ځانګې څه ډول پر یوه محور راټولې کړای شي او یو داسې قوت ترې جوړ کړای شي، چې په ریښتینی معنا د هېواد د سیاسي واک د ترلاسه کولو جوګه شي او دې ته ځان چمتو کړي چې تر ډېرو تېروتنو وروسته یو ځل بیا ځان ددې جوګه کړي چې د اسلامي نهضت اصلي هدف ته چې په هېواد کې د یوه ریښتیني اسلامي نظام جوړول دي ورسېږي.

زموږ د اسلامي نهضت وروڼه باید پر دې پوه شي، چې نه زموږ ماموریت او مسؤولیت پای ته رسیدلی دی او نه په خانخانی سره هدف ته رسېږو؛ ځکه موږ خو همدې اختلافاتو له خپل هدف نه لرې ایستو. لکه د ختیځ مؤمن سترګور حضرت علامه اقبال چې فرمایي:

گمان مبر که به پایان رسید کار مغـــان
هزار بادهٔ ناخورده در رگ تاک است

موږ ډېره لار ووهله، پراغزنه لار مو قدمونه کېښودل، زندانونه مو وګالل، هجرتونه مو وکړل، شهیدان مو ورکړل؛ خو موږ لا هم له خپل هدف نه لرې یو؛ ډېر لرې او باید پر دې پوه شو چې هدف ته د رسېدو لپاره مو په مخ کې پرته لار، لا اغز نه شوه پخوا یو شوروي زموږ دښمن و؛ خو نن ټوله یهودي او صلیبي نړی زموږ دښمنه ده او بې مروته، بې احساسه او تش په نامه مسلمان ګاونډیان مو پرې دپاسه چې زموږ په مرګونو او شهادتونو کې خپل ژوند ګوري، زموږ د هېواد په ویجاړولو کې خپله بقا او خپلې ګټې ګوري او چې کله د امریکا ګواښونو ته د ځواب ویلو په اړه د سیاسي احزابو ټول ګوندیز کنفرانس راغواړي، پخپله ګډه اعلامیه کې د امریکا نوم قدرې هم نه شي اخستلای، دا به دوی خپله سیاسي پوهه ګڼي خو دا دې هم نه هېروي چې د بې ایمانی او بې غیرتی انتها هم ده.

زما مخاطبین د هېواد د اسلامي نهضت مشران او منسوبین دي، دوی باید د وخت حساسیتونه هم په پام کې ونیسي او خپل اسلامي مسؤولیتونه هم او دا چې څه ډول کولای شو، ځانونه د خپلو مشرانو له خوا ټاکلي هدف ته چې په هېواد کې له هر ډول فساد او رذایلو سره مبارزه او بالاخره د اسلامي نظام ټینګول دي، ورسوو. که چېرې موږ د اسلام په ریښتینی لاره ولاړ نه شو او ټول یو ځای او یو موټی د خدای پر پړي (عظیم الشأن قرآن) منګولې ښخې نه کړو نو که د کعبې د لارې پر ځای د ترکستان پر لاره څومره مزل هم وکړو، څه ګټه کوي، که موږ اسلامي نظام ته ونه رسېږو که بېګانه نظام ته څومره هم لستوڼي وغورځوو څه فایده ! د اروابناد استاد حمزه شینواري په وینا:

چې رڼایې په څېره کـــې د اســـلام د تهـذیب نه وي
زما څه پرې که دا وران شي، بل ودان شي جهان نوی

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

په افغانستان کې د متحدانو لاسته راوړنې د زهرجنې فضا قرباني شوې

ډيلي ټيليګراف:
د برېتاني چاپ ډيلي ټيليګراف ورځپاڼې بيا په خپله وروستۍ ګڼه کې ليکلي چې په افغانستان کې د متحدانو لاسته راوړنې د دغه هېواد د زهرجنې سياسي فضا قرباني شوې دي.
ورځپاڼه ليکي:
په افغانستان تکتيکي پرمختګونه تر سترګو کيږي، خو په عين حال د دغه هېواد ستراتيژيک وضيعت مخ په خرابيدو دی.
د مطلب ليکونکی وايي، د حقاني شبکې د يوه مهم غړي مالي خان نيول کيدو چې امريکايي مقامات وايي په کابل کې يې د دوي پر سفارت او د ناټو پر يوې اډې په بريدونو کې لاس لري دې ايساف ځواکونو معنويات لوړ کړي دي.
دغه راز په افغانستان کې د امريکايي سرتيرو په زياتوالي سره د دې هېواد زياتره سيمې له طالبانو پاکې شوې چې دې پرمختګ هم د مرستو کونکو هېوادونو معنويات لوړ کړل.
خو ډيلي ټيليګراف ورځپاڼه وايي، چې د افغانستان زهرجنې سياسي وضعې بيا دغه پرمختګونه ترخپل سيورې لاندې راوستي دي.
ورځپاڼه وړاندې وايي: پر پاکستان باندې د امريکا مستقيم تورونه، د هغې په وړاندې د پاکستان عکس العمل ،د برهان الدين رباني وژنه او د ولسمشر کرزي دا خبره چې له طالبانو سره به د سولې خبرې بندې کړي د افغانستان سياسي وضيعت له رکود سره مخ کړي او داسې يو حالت يې پيدا کړی چې له مخې په دغه هېواد کې تولې هڅې بايد له سره تنظيم او پيل شي.

واشنګټن پوسټ:
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپله وروستۍ ګڼه کې د کابل بانک موضوع راخيستې او ليکي، چې د کابل بانک مسله کولای شي له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې له خوا د سل ګونو ميليونو ډالرو مرستې مخته خنډونه پورته کړي.
واشنګټن پوسټ ليکي، يو کال کيږي چې افغان دولت کابل بانک په خپل کنټرول کې اخيستی، خو تر اوسه پورې له دغه بانک څخه د لا درکه او لوټ شوو څه کم يو ميليارد ډالر څخه يوازې لس په سلو کې بيرته ترلاسه شوي دي.
د مقالې ليکونکی وايي، دا بحران کولای شي له افغانستان سره د يو ميليارد او اته سوه ميليونو ډالرو مرستې ته چې مختلفو هېوادونو يې ژمنه کړې ضربه ورسوي.
واشنګټن پوسټ وايي، نړيوالو دا مرسته په دې خاطر بندې کړې چې د پيسو نړيوال صندوق په افغانستان کې خپلې چارې ودرولې.
ورځپاڼه وايي، سره له دې چې د افغانستان لويه څارنوالی وايي، چې جرم شوی او مجرمان بايد محاکمه شي خو تر دې دمه د کابل بانک په قضيه کې هيڅوک په کوم جرم نه دی محکوم شوی.
د لوي څارنوالی مرستيال رحمت الله نظري واشنګټن پوست ته ويلي، که له کابل بانک څخه په غير قانوني توګه ويستل شوي پيسې بيرته هم ترلاسه شي بيا هم د دغه بانک پخواني مسولان شير خان فرنود او خليل الله فيروزي بايد چې محاکمه شي.

در کنفرانس ملی صلح و سواد بر محو بیسوادی از کشور تاکید شد

کابل، پژواک:
مقام های حکومت افغانستان، خواهان همکاری علمای دین در راستای مبارزه با بیسوادی شدند و اظهار امیدواری کردند که تا ختم سال ۱۳۹۹، بیسوادی در کشور محو گردد.
محمد کریم خلیلی معاون دوم رییس جمهور، درکنفرانس ملی سواد و صلح از دیدگاه رهبران دینی و اجتماعی، دیروز (۱۲ میزان) در کابل گفت که صلح و سواد، باهم ارتباط داشته و بیسوادی یکی از عوامل عمدهٔ جنگ و ناامنی ها درافغانستان است.
گزارش ها می رساند که در حال حاضر، در افغانستان که نفوس آن ۲۶،۵ میلیون تن تخمین شده است، حدود ده میلیون تن بین سنین ۱۵ الی ۴۵ سال از نعمت سواد محروم می باشند.
کریم خلیلی گفت که مشکل بیسوادی در کشور، سبب شده که شماری از جوانان بیسواد، در دام "دهشت افگنان " بیفتند.
موصوف گفت که طی ده سال گذشته، کارهای زیادی درقسمت باسوادی مردم صورت گرفته؛ اما نیاز است که ملاامامان در جهت محو بیسوادی با وزارت معارف همکار شوند و مردم را تشویق نمایند تا اولادهای شان را به مکتب بفرستند.
غلام فاروق وردگ وزیر معارف نیز در کنفرانس امروز، از علمای دین در کشور خواست که دراین عرصه، با وزارت معارف همکاری کنند.
به گفتهٔ وی، باید مسجد و مکتب متمم یکدیگر شوند و علمای دین از طریق مساجد و تکایا، برنامه های سوادآموزی را روی دست گیرند.
وی نیز از علما خواست تا مردم را تشویق کنند که اولادهای شان را شامل مکتب نمایند.
موصوف گفت که وزارت معارف، درمدت ده سال گذشته در قسمت باسوادسازی مردم کشور، کارهای زیادی را انجام داده است .
به اساس معلومات منبع، فعلاً در ۲۶۴۰۰ کورس سوادآموزی و ۸۹ مکتب سوادآموزی، ۶۰۰ هزار تنی که از نعمت سواد بی بهره بودند، تحت آموزش قرار دارند.
وی افزود: "اگر برنامه های وزارت معارف، به همین قسمی که هست پیش برود، انشاءالله تا ختم سال ۱۳۹۹ بیسوادی در کشور محو خواهد شد. "
موصوف علاوه کرد که درمدت ۱۰ سال گذشته ۲،۶ میلیون تنی که از نعمت سواد بی بهره بودند، از طریق کورس های سوادآموزی، باسواد شده اند.
وزیر معارف نیز گفت که صلح و سواد، با هم رابطهٔ مستقیم دارند و به همین دلیل، از هر دوی این روز، یکجا تجلیل به عمل آمد و کنفرانس تدویر یافت.
وی گفت که در حال حاضر، به علت ناامنی ها درجنوب کشور ۵۰۰ مکتب مسدود است و حدود ۴۰۰ هزار شاگرد این مکاتب، از درس و آموزش محروم گردیده اند.
روز جهانی سواد(۲۱ سپتمبر)، مطابق با ۳۰ سنبله سال روان است و روز جهانی صلح (۸ سپتمبر) مطابق با ۱۷ سنبله می باشد.

پاکستان برای صلح در افغانستان ...

استفاده از تروریزم به حیث یک وسیله ادامه دارد. جمهوری اسلامی پاکستان در بخش تامین صلح و امنیت در افغانستان با ما همکاری نکرده، که برای ما قابل تاسف است. "
رئیس جمهور کرزی یادآوری نمود که تقاضای یکجانبهٔ دولت افغانستان برای صلح، نتیجه ای در قبال نداشته و به همین علت، باید برای رسیدن به صلح، در ستراتیژی خود تجدید نظر نماید.
وی علاوه کرد که به همین منظور در آیندهٔ نزدیک، جرگهٔ عنعنوی مردم افغانستان را فراخواهد خواند تا برابر با خواست مردم عمل شود.
موصوف گفت که حکومت افغانستان برای تامین صلح در کشور؛ با دولتها طرف است نه با گروپهای وابسته با آنها؛ پس به همین منظور، باید با آنهایی مذاکره صورت گیرد که صلاحیت مذاکره را دارند.
رئیس جمهور، اگرچه از کدام کشور مشخصی نام نبرد؛ اما اشارهٔ وی به پاکستان بود.
موصوف، یکبار دیگر از حکومت پاکستان خواست تا حکومت پاکستان منفعت مردم خود را درک کند و در تامین صلح و امنیت برای هردو کشور، با دولت افغانستان همکاری نماید.
کرزی در اظهارات خود، مردم پاکستان را حامیان صلح خواند؛ اما به سخنان حکومت پاکستان برای صلح به دیدهٔ شک نگریست.
وی گفت که افغانستان نیز طی پنج سال گذشته، بیش از هر وقت دیگر تلاش تحکیم روابط وسیع و حقیقی را نموده است.
اما وی اظهار امیدواری کرد که حکومت پاکستان نیز بعد از این، از تلاشهای مردم خود حمایت کند.
رییس جمهور، با اشاره به تلاشهای جاری حکومت برای صلح گفت: "آرزوی ما همین بود و همین هست تا زمینهٔ زنده گی امن و صلح آمیز را به مردم خود مساعد بسازیم؛ اما پاسخ طالبان و حامیان آنها ترور و قتل بوده و هست. "
کرزی علاوه نمود که تلاشهای دولت افغانستان، تا حال به خاطری به کدام نتیجه نرسید، که جانب مقابل به صلح باور ندارد.
نامبرده افزود که دولت افغانستان، بعد از این بر اساس مسوولیت خود، با دشمنان استقلال و صلح و حامیان آنها مبارزهٔ جدی خواهد نمود.
کرزی در سخنان خود، سال جاری را به این خاطر برای افغانستان اساسی، حیاتی و سرنوشت ساز خواند که از یک طرف در ترکیه و آلمان در مورد افغانستان کنفرانسها دایر میگردد و از طرف دیگر، حکومت افغانستان مصمم است تا زمینهٔ خروج نیروهای خارجی را از افغانستان مساعد بسازد و تمام مسوولیت ها را الی پایان سال ۲۰۱۴ به عهده بگیرد. وی همچنان از روابط ستراتیژیک امریکا با افغانستان، یادآوری نموده علاوه کرد که اگر امریکا شرایط و خواسته های افغانستان را بپذیرد و لویه جرگهٔ عنعنوی از این روابط پشتیبانی نماید، حکومت افغانستان این سند را امضا خواهد کرد.
کرزی گفت که حکومت افغانستان، طی ده سال گذشته تلاش نموده تا امریکا و ناتو را متوجه کند که آنها برای مبارزه علیه تروریزم، بر مراکز آنها تمرکز نمایند.
وی افزود: "جنگ با تروریزم در قرا و قصبات افغانستان نبوده، بلکه مبارزهٔ حقیقی با آن، زمانی تحقق پیدا میکند که با مراکز آموزشی تروریستان مبارزه صورت گیرد. "
وی علاوه کرد که به علت عدم توجه به مراکز دهشت افگنان، طی ده سال گذشته خون هزاران انسان بیگناه ریخته شده است.
وی به مردم گفت: حالا وقت آن رسیده است که بزرگان سیاسی، نظامی، علمای دینی، روشنفکران و بزرگان قومی، با اتحاد برای حفظ استقلال کشور خود، مشترکاً مبارزه نمایند.

د تروریزم د لمنځه وړلو په ...

راسموسن په بروکسل کې خبريالانو ته وويل، دا وضح ده چې د حقاني شبکې او نورو تروريستي ډلو غړي په پوله د پاکستان له لوري سخت دريځې افغانستان ته اوړي او په دې هيواد کې حملې ترسره کوي.
راسموسن خبرداری ورکړ، چې دا د دواړو خواو د انديښنې وړ مسله ده او د دغې ستونزې د هواري لپاره موږ د پاکستان اغيزمنو اقداماتو ته اړتيا لرو.

امکان دارد نیروهای خارجی ...

در سه سال آینده امکان پذیر است. او همچنان گفت، هرچند قضاوت قبل از وقت خواهد بود، اما ختم سال ۲۰۱۴ معنی اش این نیست که ما کاملاً نا پدید می شویم. این کاملاً ممکن است که نیروهای ایالات متحده امریکا و سایر نیروهای بین المللی بحیث حاصل موافقت نامه دو جانبه یا چندین جانبه بعد از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی بمانند.
ریان کراکر سفیر ایالات متحده امریکا در افغانستان از طریق تلفون به روزنامه تایمز گفته است، ما به صراحت گفته ایم که در صدد پایگاه های دایمی در افغانستان نمی باشیم، اما این احتمال را هم مستثنی نمیدانم که یک تعداد از نیروهای جنگی ما در صورتی که افغانها بخواهند در افغانستان باقی می مانند. من فکر می کنم که این نیروهای خاص خواهد بود، ولی در حال حاضر این فقط یک نظر است.
بنوشته روزنامه تایمز، دیوید کامرون صدر اعظم بریتانیا گفته است، خارج شدن نیروهای بریتانیوی متکی به تقسیم اوقات تعین شده است تا مشروط به اوضاع در افغانستان. اما بر عکس، بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا، گفته است که، روند کاهش دادن نیروهای ایالات متحده امریکا تا حد زیاد مربوط خواهد بود به شرایط و اوضاع امنیتی در افغانستان.
ریان کراکر سفیر ایالات متحده امریکا که در روزهای بسیار دشوار در عراق سفیر بود می گوید، با وصف اینکه چالش ها در افغانستان همچنان دشوار است، اما سطح خشونت ها نسبت به آنچه در سال ۲۰۰۷ میلادی در بغداد بود بسیار پایین می باشد. سفیر امریکا حمله ماه گذشته بالای سفارت امریکا را در کابل یک حادثه نا خوش آیند خواند و گفت، این فقط یک تلاش بود برای جلب سرخط رسانه ها، اما نه اینکه کدام صدمه ای وارد کنند، زیرا نه توانستند.
بدگمانی ها در افغانستان راجع به حمایت پاکستان از گروپ های شورشی زیاد است. علاوتاً مایک مولن لوی درستیز امریکا که فقط هفته گذشته بحیث یک قوماندان بلند پایه از وظیفه اش متقاعد گردید، اداره استخبارات پاکستان را به حمایت از گروپ حقانی متهم نمود.
کراکر گفت، انتقال مسوولیت امنیت به نیروهای افغان یک روند درجه بندی شده دقیق است. ولی از آنجایکه ما نیروهای خود را کاهش می دهم، نیروهای امنیتی افغان کاملاً توانایی بعهده گرفتن کنترول امنیت را دارند. بناً تا جایکه دیده می شود، روند انتقال کاملاً عملی و امکان پذیر است.

وسلوالو مخالفینو سره خبرو اترو ...

چې په کونړ کې د سولې بهير په چټکۍ سره روان دی او په رسمي او غير رسمي توګه لسګونه مخالفين له دې بهير سره يوځای شوي دي.
خو هغه زياته کړه، چې په دې وروستيو کې د پاکستانيو ځواکونو له خوا توغندیزو بريدونو په خلکو کې انديښنې راپيدا کړي دي، چې د دې بريدونو په دوام سره به د سولې پروسه زيانمنه شي.
وحيدي وويل: "موږ د مرورو ورونو د پخلا کولو لپاره څينې پروژې تر کار لاندې نيولې، چې هغوی ته په کې د کار زمينه هم برابره کړو. " نوموړي د دولت له وسلوالو مخالفينو وغوښتل، چې د سولې بهير سره په يوځای کېدو د خپل هېواد په بيارغونه او پرمختګ کې ونډه واخلي.
بل خوا د ناټو ملکي او نظامي استازو، نن په کابل کې د يوې خبري غونډې پر مهال د ولسمشر حامد کرزي د هغه دريځ ملاتړ اعلان کړ، چې د سولې لپاره د وسلوالو مخالفينو پر ځای د پاکستان له حکومت سره خبرې وشي.

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۰۲۰۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چي د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسي اصلاح کړي چي د لیکني اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مسترديږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزي رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com